حفیظ الله خالد

۲۰۱۲/۲/۱۹

# کاشکي جنګونه نوای

کاشکي وطن کي دا جنګونه نوای
توپک ،راکټ، شوبلئ بمونه نوای

ستونزي یوازي په جـرګو حلیـدای
هـر خـوا د ویـنو بهیرونـــه نوای

هرڅوک بسیا واي په خپل کورکلي کي
د پـــردیسي ژونـــد کـــړاونــه نوای

د سولی لمر وای د وطن په غرونو
د جنګ لوخړې او اورونـــه نوای

یو د بل مرستی ته میدان ته دانګل
جوړه ورورري وای خودامونه نوای

هر یوچارواکئ خدمتګار وای هلته
رشـــوت فســاد جنایتونـــه نه وای

قانون په هر سـړي یو شان چلیدای
د توراو سپین تر منځ واټونه نوای

په کروندو کی مو ګــلان کــرلای
د نشـــه ای تــوکـو کښتونه نوای

ټول ځان د دي وطن بچیان بللای
د قوم ملیت دا توپیرونـــه نوای

د وطـــن هر بچئ تعلیم کړای وای
د زده کړي مخی ته خنډونه نوای

هرخوا ښادي وي د وطن په کلیو
کونډې یتیم په کورغمونه نوای

د هر یو خوله واي د خندا نه ډکه
مینه ، دوستي وای خوچمونه نوای

د خالد ژوند به له خوښیو ډک وای
چي په وطن کی دا جنګونه نوای

- ویانا


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ